مطبوعاتي اعلاميه

# حکام زمونږ د وسله والو ځواکونه له لوري د فلسطين د ازادولو لپاره، د الله سبحانه وتعالی پر حکم سترګې نه شي پټولی

حزب التحرير- ولايه پاکستان لاريونونه وکړل او د فلسطين د ملاتړ لپاره يې د پاکستان له پوځ څخه د سملاسي حرکت غوښتنه وکړه. لکه څنګه چې يو ناروغ پلار د اړتيا پر مهال خپل تر ټولو پياوړي زوی ته مخ اړوي؛ مسلمانان هم چې تر بريد لاندې راغلل، ټول امت خپل پوځ ته مخ وراړوي. د پاکستان رهبری ته چې اوس څه شی ورپاتې دي، هغه يوازې باطلې او بې اعتباره پلمې دي.

**۱. دا پلمه چې بايد د حکامو امر ته په تمه شو، باطله ده.** نور په تمه کېدو ته اړتيا نشته. د اشغال شويو ځمکو ازادول د الله سبحانه وتعالی حکم دی، چې همدا اوس بايد پلی شي. د فلسطين د مسلمانانو مقاومت که څه هم له وياړه ډک او ستر دی؛ يهودي دولت له منځه نه شي وړلی. دا زمونږ د افسرانو مسوليت دی چې د الله سبحانه وتعالی له حکم سره سم د دوی مرسته او ملاتړ وکړي.

**[وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ]**

ژباړه: «هو که هغوی د دين په اړه له تاسو د مرستې غوښتنه وکړه، نو د هغوی مرسته پر تاسو فرض ده.» [انفال: ۷۲]

**۲. دا پلمه باطله ده چې د حاکم امر د الله سبحانه و تعالی د امر مخه نيولی شي.** ښکاره ده چې حکام د فلسطين د ازادولو لپاره زمونږ د افسرانو د مخنيوي لپاره هڅې کوي او ګنګوسې خپروي. حکام غواړي چې زمونږ پوځونه د مسلمانانو پر وړاندې د دوی ملاتړ وکړي. خو که پوځي افسران د حکامو اطاعت وکړي نو الله سبحانه وتعالی په قهر کوي. که افسران د حکامو نافرماني وکړي او د الله سبحانه وتعالی پيروي وکړي، په دنيا او اخرت کې برياليي کېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ» له مخلوق څخه هېڅ داسې طاعت نه دی پکار چې د معصيت سبب شي. (احمد او طبراني روايت کړی دی).

**۳. دا پلمه چې يوازې حکام به سزا ويني، هم باطله ده.** د فرعون لښکر ته هم د فرعون په څېر سزا ورکړل شوه. د اشغال شويو خاورو د ازادولو امر يوازې د رهبری لپاره نه، بلکې د ټولو افسرانو لپاره دی. که رهبري د الله

سبحانه وتعالی له حکم سره سمه نه وي، باید گوښه او ځای یې ونیول شي. نو مه پرېږدئ چې کوم افسر خپل ځان هېر کړي، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلاَ]**

**ژباړه** «او وبه وايي: «اې زموږ ربه! موږ د خپلو سردارانو او مشرانو پیروي وکړه او هغوی موږ له سمې لارې څخه بې لارې کړو» [احزاب: ٦٧]

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو کې د صلاح الدين زامنو!** امت له يوه تاريخي تحول څخه د تېرېدو په حال کې دی، نو ورسره ودرېږئ. همدا وخت دی چې د گناه او غفلت پر ځای په توبه، اطاعت او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد وکړئ. د حزب التحرير د امير، شيخ عطا بن خليل ابو الرشته تر مشرۍ لاندې له حزب التحرير سره لاسونه يو کړئ او پر مخ لاړ شئ. مخ پر وړاندې لاړ شئ او د مسجد الاقصی په انگړ کې د فتحې تکبيرونه پورته کړئ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حوله]**

ژباړه: «هغه ذات پاک دی چې يوه شپه يې خپل بنده له مسجدالحرام څخه تر مسجد الاقصی پورې چې د هغه شاوخوا يې برکتي کړه، يووړ.» [اسرا: ١]

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**١۴۴۵ هـ.ق کال، د ربيع الاول ٢٩مه**

**٢٠٢٣م کال، د اکتوبر ١۴مه**

**د صدور گڼه: ١۵/ ١۴۴۵**

**ژباړن: فريدون محتاط**